## په سړني پوهنیز کال کې په دولتي...

والي او د ولایتي شورا مرستیال په خپلو ویناوو کې د لوګر له ټولو درنو اوسېدونکو څخه غوښتنه وکړه، چې په خپلو ماشومانو زده کړې وکړي او ښوونځیو ته يې ولېږي.
په دې غونډه کې د القلم د خصوصي ښوونځي زده کوونکو د پوهنې ترانه هم ولوسته، چې په تودو چکچکو بدرګه شول.
د غونډې په پای کې یاد دولتي چارواکي، دیني عالمان او قومي مشران په ګډه د حضرت عمرفاروق(ÖÑ) د هلکانو لېسې ته ولاړل او هلته يې د نوي تعلیمي کال د پیلېدو زنګ وکړنګاوه.
دیادونې وړ ده، چې په دې ولایت کې نوی تعلیمي کال په داسې حال کې پیل شو، چې د پوهنې ریاست د معلوماتو له مخې؛ لاهم د ۳۰۸ تعلیمي مرکزونو له جملې څخه ۱۱۸ تعلیمي مرکزونه ودانۍ نه لري.

## په لوګر ولایت کې داوبو رسولو څلور شبکې...

د کرنې د رییس په وینا: د اوبولګونې د نوي او عصري سیستم جوړونکې شبکې د کرنې، اوبولګونې او مالدارۍ وزارت د بنسټیزو پروګرامونو لړۍ Ïå¡ ترڅو د کرنې اوبولګونې او مالدارۍ په برخه کې یو مثبت بدلون رامنځ ته شي.
مومند وویل: درې کانالونه يې دلوګر ولایت په مرکز او یو بل کانال دمحمدÂغي په ولسوالۍ کې دڅه پاسه اتو زرو مترو په اوږدوالي په کرونده کې داوبو دتنظیم دپروګرام له خوا په یو کال کې جوړېږي چې ددغو کانالونو په جوړېدو سره به څلور سوه شپیته هکتاره ځمکه خړوبه او درې زره نهه سوه تنه په مستقیم ډول ورڅخه استفاده وکړي.

## د لوګر ولایت په مرکز کې رسماً د ټاکنو لپاره د نوم لیکنې...

امنیه قومندان هم ددې پروسې د امنیت په هکله ډاډ ورکړ چې زموږ امنیتي ځواکونو د خپل سر په بدله هڅه کوي تر څو خلکو ته امنیت ونیسي او په ازاده فضا کې نوم لیکنه وکړي.
د ټاکنو ولایتي دفتر رییس وویل: موږ به په ټول توان سره د لوګر په مرکز او ولسوالیو کې د ټاکنو دملي پروسې لپاره نوم لیکنه جاري وساتو، له خلکو غواړو چې زموږ سره په بشپړه هېوادنۍ مینه همکاري وکړي، نوم لیکنه وکړي او په ټاکنو کې د برخې په اخیستلو د دیموکراسۍ بنسټونه تقویه کړي، هغه زیاته کړه¡ چې اوس لپاره موږ په مرکز پل علم کې ۱۳ Ï نوم لیکنې مرکزونه فعال کړیدي او که ضرورت و نور اوه مرکزونه چې اوس لپاره بند دي هم خلاص کړو.
Ïå زیاته کړه¡ لومړی مرحله چې یوه میاشت ده چې نن په مرکز کې پیل شوه او دوهمه مرحله به ولسوالۍ او کلي کې وي چې ۲۸ ورځې به روان وي.

# ماشومان زموږ راتلونکي جوړوي

لکه څنګه چې پوهیږو ماشومان دنن ورځې کوچنیان دي، خو دسبا ورځې زلمیان دی، نو همدا ماشومان دټولنې دپرمختګونو برخه ده. که چیرې ماشومان سم وروزل شي او خپل وخت بې ځایه تیر نکړي، نو ژر به ددې ورځې شاهدان واوسو، چې زموږ هیواد خورا زیات د هغو هیوادونو په قطار کې ودریږي، چې نن موږ ورته د مختلفو توکو اړتیاوې لرو او خودکفا وواسي.
هره کورنۍ باید خپل مسؤلیت چې دماشومانو د روزنې او پالنې پروړاندې لري، په سمه دهغوی د روزنې او ښوونې چارې په ښه توګه سرته ورسوي، ترڅو په راتلونکي کې دخپل د زیار او کوښښ پایله وګوري، هیڅکله هم خپل ماشومان بې ځایه کارونو ته ونه هڅوو او یاهم دتعلیم او درس ویلو وخت یې ونه نیسو.
په ماشومانو درانه کارونه مه کوئ پریږدئ، چې نن همدغه تنکي ګلان درسونه ووایي او سبا ته یو روښانه راتلونکي ولري، چې هم ولسونه او هم هیوادوال پرې وویاړي اوهم دنړۍ خلکو ته وښایي، چې افغان ماشومان څومره ځواکمنتیا او وړتیاوې له ځانه لرلای شي.

**لیکنه: امان الله »ستانکزی«**



## ګرانو هیوادوالو!

**سوله دبشریت او انسانیت لپاره الهي نعمت دی، چې لوی خدای (Â) پرموږ پیرزو کړیده، ځکه په سوله کې زموږ ژوند خوندي وي، بې له سولې انسان ژوند هره ګړۍ په ویره او وحشت کې تیره وي.**
**خو راځئ، چې دسولې ښیګڼې خپلو ټولو هیوادوالوته ورسو، څو دسولې له سپیڅلې کلیمې څخه ټول ولسونه آشنایي پیدا کړي او له آې الهي نعمت څخه ټول افغانان ځانونه برخمن کړي او دابه زموږ اتلولي وي، چې خپل ګران هیواد دسولې راوستو په برکت ښیرازه او سمسور کړو.**
**دغه پیغام تاسو ته دجریدې لوی مدیریت لخوا وړاندې شو**

# ارزش واهمیت درختان وجنگلات

دین مبین اسلام غرس نهال وکشت نباتات را منحیث یک صدقه اعلان نموده است، غرس نهال وحفاظت از آن در روشنی ارشادات اسلامی یک خدمت به نوع بشر است که پاداش وثواب بیشمار بدست میاید. جنگلات وتمام فرش نباتی درقسمت زیبائی طبیعت وتحفظ محیط زیست نقش با ارزش دارد، ما انسانها وتمام زنده جانها برای تنفس به هوای تازه ضرورت داریم، ازینرو باید ازین منابع بصورت درست مواظبت نموده وتوجه خاص را درقسمت غرس نهال ومراقبت از آن مبذول بداریم، در ارتباط باغرس نهال رهنمائی شفاف وهمه جانبه در دین مبین اسلام موجود است به این اساس به مسلمان ها هدایت داده شده است تا غرس نهال را به شکل انفرادی و دسته جمعی انکشاف دهند.
درختان ازگرانبها ترین نعمات خداوند مهربان برای انسان ها ویکی از زیباترین مظاهر خلقت وجلوه ای از تجلیات آفریدگار عالم است، به دلیل نقش حیاتی که در زندگی تمام موجودات زنده به خصوص انسانها دارد دراسلام مورد توجه خاص قرار گرفته است.
نباتات منابع اساسی غذا میباشد حبوبات، غله جات سبزیجات ومیوه های برای انسانها وعلوفه ها وانواع گیاهان دیگرغذای حیوانات اهلی ووحشی بوده که تماماً از نباتات بدست میاید.
نباتات کاربن دای اکساید را ازهوا جذب نموده واکسیجن را که عامل پیشرفت زندگی است آزاد میسازد وبه همین ترتیب درختان رول قابل ملاحظه را درپاک نگهداشتن هوا بازی مینمایند.
نباتات باعث تحفظ تعادل در درجه حرارت محلی گردیده بادها، ابرها وهوا رابه شکل متعادل وخوشگوار نگه میدارد.
نبات درمقابل فرسایش خاکهای حاصلخیز که ازطریق آب وبادهای قوی صورت میگیرد مقاومت کرده وباعث جلوگیری از فرسایش خاک وازبین رفتن حاصلخیزی آن میگردد، نباتات ذخایر آب زیر زمینی را از آیاد ساخته وتخریب سیلاب ها را کاهش داده و در ارتباط با عرضه وجریان دایمی آب کمک مینماید.
برعلاوه نهال ها درزندگی انسانها مفاد بیشتر دارد چون همه ما به هوای مناسب، محیط سالم وآب پاک ضرورت داریم.
بناً مسؤلیت همه ماست تادرقسمت غرس نهال وحفاظت آن تاحد ممکن سعی نمائیم. باید هرکدام ما درساحات مناسب که زندگی مینمایم یافعالیت روزانه داریم یک نهال غرس نموده وجهت آبیاری آن آب مورد استفاده روزمره خویش رابریزیم واز آن مراقبت نمائیم. درصورتیکه وقت ومنابع طبیعی رابه شکل مسؤلانه استفاده نمائیم هم سبب پاکی محیط زیست میگردد وهم مسؤلیت ما دربرابر نسل های آینده اداء میشود.
نهال شانی یکی ازسنت های کهن مردم ما به شمار میرود که همه ساله به منظور سرسبزی ساحات نهالشانی صورت میگیرد. تمام افراد جامعه بخاطر مسولیت که درقبال محل بود وباش خویش دارند درامرپیشبرد این پروسه سهیم شوند واز آن حفاظت نمایند.
به سلسله ادامه برنامه نهال شانی وبه منظوربهبود وضعیت محیط زیست کشور ازهمه هموطنان عزیزاحترامانه تقاضا می نمائیم تا درسال جاری نیز درزیبائی طبیعت کمر همت ببندد محیط زیست وماحول خویش را سرسبزنموده وچهره زیبای طبیعت را زیباترسازند.

**مطلب ارسالی: ریاست محیط زیست ولایت لوگر**

## جوانان و مسؤولیت هایشان در برابر جامعه

قسمیکه گفته میشود جوانان ستون فقرات جامعه است پس واضح است که جوانان کسانی هستند که جامعه به مراتب بیشتراز ایشان توقع دارد که در هر عرصه خدمتگذار واقعی جامعه باشند.
جوانان در قدم نخست مسؤول اند که به تعلیم و تربیه خود توجه خاص داشته باشند چون همین تعلیم و تحصیل است که آنها میتوانند به سبب تعلیم و تربیه راه نیک و راه بد را از هم فرق نمایند و همچنان جوانان مسؤول هستند در پرتو شریعت اسلامي با ذهنیت های مثبت و مفکوره های عالی جامعه را بسوی روشنی پیشرفت و ترقی سوق دهند و گام های استوار بردارند جوان خوب به کسی اطلاق میشود که در برابر جامعه احساس مسؤولیت نموده و بخاطر رفاه آرامی و آبادانی کشور کارها و تلاش های خسته ناپذیری از خود نشان بدهد.
جوانان آگاه و با مسؤولیت چرا؟ بجای کارهای نیک که منفعتش به دیگران و جامعه میرسد کارهای خلاف و غیر قانونی انجام میدهند در رابطه به همین گفته ها یکبار دیگر به جوانان خطاب میکنم که با آمدن سال نو آرام ننشسته و بخاطر سرسبزی ولایت خود پروسه نهال شانی را به راه انداخته و هر جوان مسوولیت خود را درقبال خانواده¡ جامعه و مردم خود انجام دهند.
پس از همین حالا دست به دست هم داده و در شگوفایی کشور خود نقش بارز و اساسی را خود را انجام دهید کشور به مردمان روشنفکر و عالی ضرورت دارد پس چرا ما جوانان هریک ما از عالی ترین و روشنفکر ترین جوان جامعه نباشیم.
یک جامعه زمانی به رشد و شگوفایی میرسد که جوانان نیرومند و با ایمان داشته باشد زیرا جوانان مهم ترین عنصر یک جامعه را تشکیل میدهد.

**عبدالاحمد »فیضی«**

## پیام ریاست مبارزه علیه مواد مخدر ولایت لوگر

هموطنان عزیز!
1 – هرنوع مقاومت در برابر تخریب کوکنار جرم است.
2 – تهیه نفقه حلال عبادت است، باکشت حرام این عبادت رابه گناه مبدل نسازیم.
3 – زراعت حلال در دین مبین اسلام یک پیشه مقدس است، با کشت حرام ثواب را به گناه مبدل نسازیم.
4 – معتادین مواد مخدر ازعبادت خداوند (Â) باز می ماند، باکشت وتولید مواد مخدر خود را شریک گناه نسازیم.
5 – زارعین کوکنار نظر به ماده (1) قانون مبارزه علیه مسکرات ومواد مخدر مجازات میگردند.
6 – جلوگیری از کشت، تولید، قاچاق واستعمال مواد مخدر مسؤلیت وجدانی هرانسان است.

# څه وخت به موستونزې حل شي؟

لکه څنګه چې وینو په ورځني ژوند کې له سختو ستونزو او مشکلاتونو سره لاس او ګریوان یو، د دې ستونزو لامل څه دي؟ او څنګه کولای شو د ستونزو د له منځه وړلو د حل لارې چارې پیدا کړو؟ د دې ستونزو او مشکلاتونو یواځنی؛ لامل موږ خپله یو.
ولې د دې پرځای چې یو بل پسې خبری کوو او وخت بی ځایه تیرو، یو کتاب نه لولو چې هم پکی د دنیا ګټه او هم پکې د آخرت ګټه شته او همدارنګه انسان د بې ځایه خبرو کولو څخه ژغورې او هغه څه ور زده کوي، چې انسان د کړاونو او بدبختیو څخه د رڼا او پرمختګ لورې ته بیایي او د دې تر څنګ دا مسؤولیت هم ورته په ګوته کوي چې څه زده کوي هغه به نورو ته ضرور د ممکنو لارو څخه رسوی او هغوی به هم د دې په زړه پورې مطالب څخه برخمن کو ا¡ هر هغه څه چې د ځان لپاره خوښوو د نورو لپاره يې هم باید خوښ کړو او برعکس هر هغه څه چې د ځان لپاره يې نه خوښوو نورو ته يې هم خوښ نکړو هغه څوک چې نورو ته کوهې کبندې په دې دې ځان پوه کړي چې یوه ورځ به پخپله په همدا کوهې کې غورځي او دې ته ورته خبره څوک چې نور خلک په غشو ولې داسې ورځ به هم راشي چې همدا غشې به يې پخپله خوړلې وي. ولې پر یو بل دومره بی باوره یو او د اعتماد او باورمنتیا فضاء بلکل له منځه تللې ده ځکه چې تر ډیره بې ځایه خبرو او کارونو ته وخت ورکوو په اوسني وخت کې که یو څوک بې ځایه خبرو او کارونو ته پرېږدی نو به ګورې چې د بې ځایه خبرو او کارونو څخه به يي که څه ولیکو کتابونه به ډک شي او که د پنځو دقیقو علمي بحث ته يې پرېږدې او ورته ووایې چې یو څو خبرې وکړه نو ښکاره خبره ده چې دوه ټکې هم نشي ویلی، ښه ځوان باید د نورو ستونزې حل کړي نه دا چې ستونزې را پیدا کړي.
ځوانانو ته په کار دا ده، چې د ټولنې د پرمختګ لپاره مثبت او نه زیان رسونکې فکر او ذهنیت خپل وجود کې وروزي او د اسلامي ارزښتنونو په نظر کې نیولو سره سم نورو ته عامه پوهاوی او مثبت ذهنیتونه ورکړي هر هغه څوک د خپل ځان او کورنۍ لپاره څه نشي کولای نو هېواد او خلک به له هغه نه څه تمه ولري¡ هغه په هېڅ صورت هېواد ته کار نشي کولای.
نو د داسې کسانو له شتون څخه د هغوی نه شتون بهتره ده او هېره دې نه وې چې هر څوک ځان ته ښه ځوانان وایي؛ نو د ښه ځوانان اوسېدلو تر څنګ دې ښه کارونه هم وکړي تر څو دا ثابته کړې، چې صرف په خبرو کې ښه ځوان؛ نه بلکې د اعمالو په ترسره کولو کې هم ښه دی او زه د دې ورځې په هیله یمه، چې زموږ ټولې شته ستونزې حل شي او د یوه افغان په ژبه کې د ستونزو او مشکلاتو کلمه نه وي.

**لیکنه: بصیره »شجاع« ستانکزی**